مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۲/۰۶/۲۹

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یوسلونهه څلوېښتمه برخه

د طالبانو واکمني شوه
جانان پیکی تر خولی لاندې پټوینه

په مخ دې بیا څېېرې راکړې
ظالمه یاره پیغلې چا وهلې دینه

ما دې په خپل مړوند ویده کړه
خپلې څپلۍ مې سرته ډېرې ایښې دینه

د دې برخې له پاره دا نوې لنډۍ برابرې کړای شوې دي:

ځواني د عمر بادشاهي ده
دا نوروختونه پکې نه حسابومه

د تسلی ملګري څه شول
د اندېښنو سېلاب مې ښکته پورته وړینه

انقلابي پیغله به وکړم
چې په کاروان کې څنګ په څنګ راسره ځینه

تهٔ به بې غمه اوس وېده وې
زهٔ دې کوڅه کې سپو پهٔ منډو ستړی کړمه

د طالبانو واکمني شوه
جانان پیکی تر خولی لاندې پټوینه

موږ خو ازغي کرلي نه دي
قرآن وهلی لالی ولې نه راځینه

امیره ستا نوکران ډېر دي
د تور اوربل نوکر راپرېږده چې راځینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مور يې کوتک په لاس کې ګرځي
د لور غومبرې ورته چا تاو کړي دينه

په څه خبره دې ونکړم
په سترګو ړوند شې په نامې دې ستره ومه

په مخ دې بيا څپېړې راکړې
ظالمه ياره پيغلې چا وهلې دينه

اوس مې د عمر تاوان راکړه
نرۍ نرۍ خندا دې کړه رنځور دې کړمه

کابل خو ښه مزل يې بد دی
زما ګل رنګ جانان يې زېړ ځبېښلی کنه

قلم، قلم درپسې زه شوم
په کاغذې سينه دې نور کوې خوبونه

هيچا مې مخ ليدلی نه ؤ
بې ورورہ خور يم خيراتونه ټولومه

ما دې پهٔ خپل مړوند ويده کړه
خپلې څپلۍ مې سرته ډېرې ايښې دينه

زما ټوټې ټوټې زړګيه
چې مازيګر شې په جارو دې ټولومه

ولاړه يم لاړه به نه شم
تا به د زړه په رنځ اخته کړم بيا به ځمه

اميد مې شته امن به راشې
جانانه تا به لاس نيولی ګرځومه

چې څه دې کړل، هغه دې وکړل
د نورو بدو به دې لاس نه رسيدنه

بيګاه رانغلې بد نصيبه
لکه د ګوړې بوجۍ نېغه ناسته ومه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ